**مطبوعاتي اعلاميه**

**دولتي چارواکي د شکمنو سازمانونو ملاتړ کوي، ترڅو د اسلام پر وړاندې خپلې تورې له تېکيو راوباسي**

(ژباړه)

«د ښځو د حقونو بنسټ» کفري سازمان چې په حقيقت کې د لبنان په حکومت کې يې دولتي چارواکي او سيکولر فعالان ملاتړ کوي، له يوه وخته بل ته په خپلو کړنو او شعارونو عام خلک راپورلوي، چې د دې چارې حقيقت د وګړو په شخصي وضيعت پورې اړوندو شرعي احکامو يرغل دی، تر څو عامه افکار د اسلام د پاتې احکامو لغوه کولو ته چمتو کړي. دغه سازمان په لوی لاس په عامه افکارو کې داسې شکونه پيدا کوي، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پديدې تر شا اصلي عامل اسلامي قوانين دي او له غربي قوانينو غواړي، چې د ښځې او سړي تر منځ مساوات او برابري رامنځته کړي.

دغه سازمان هېره کړې ده، چې اسلام يوازينی دين دی، چې ښځو ته يې کرامت ورکړی او هغوی ته يې ځانګړی مقام په نظر کې نيولی دی؛ په داسې حال کې چې د غرب قوانينو د دوی مقام ډېر را ټيټ کړی او دغه کار د دې لامل شوی، چې دوی د سړيو د شهوت قرباني شي يا د سوداګريزو اعلانونو په موخه وکارول شي او ورځ په ورځ د موډ او فيشن په دودېدو يې جامې لنډېږي، لغړېږي، رټل کېږي او په پای کې يې له توانه ډېر دروند بار پر اوږو وراښودل کېږي. غربي هېوادونو په ځانګړي ډول انګليس او ډنمارک د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د احصايوي شمېرنې په فهرست کې لومړی ځای لري او همدارنګه د طلاق، تېري او د کورنۍ ګډوډۍ شمېرې په دغو هېوادونو کې لوړې کچې ته رسېدلي دي.

د هغه دولتي چارواکو، چې د دغو سازمانونو تر شا پټ فعاليت کوي، اندېښنه دا ده، چې په لبنان کې د اسلامي شخصي وضعيت قوانين بدل کړي او پر ځای يې د غرب د فردي حقونو قوانين پلي کړي، په داسې حال کې چې د لبنان په ګڼون په زياترو اسلامي هېوادونو کې په شخصي حالت پورې له اړوند قوانينو پرته اسلامي احکام نه پلي کېږي .... په يوه وخت کې چې مسلمانان د اسلامي خاورو د وحدت، د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت د تاسيس او ټولو اسلامي احکامو د پلي کېدو هيله لري او دوی ته دا مسئله مفهوم شوې، چې د الله سبحانه وتعالی له قانون پرته هېڅ مادي او فکري پرمختګ به اسانه نه شي، دغه ټولنې د حکومت او دولتي

چارواکو په اجازه لیک له پراخو تبلیغاتو سره را ټولېږي او نارې وهي چې پر شرعي احکامو باید غور وشي او یا له عملې صحنې نه وایستل شي. پر همدغه اساس موږ هغو کسانو ته، چې له دغه تذکره عبرت اخلي، یادونه کوو:

ـ د اسلام نظام د ښځې او سړي په ګډون د ټولو انسانانو د حال او احوال مناسب دی، ځکه دا نظام د انسانانو، کایناتو او ژوند د خالق له لوري نازل شوی دی.

﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ [ملک: ۱۴]

***ژباړه:** هغه څوک چې خلک پیدا کوي، د زړونو په حال یې نه پوهېږي؟ په داسې حال کې چې هغه په پټو رازونو پوه او باخبره دی.*

ـ په اسلامي ښارونو کې د کورنیو نظم د غربي ټولنو په پرتله، پر اسلامي قوانینو باندې د منګولو لګولو په خاطر دی، چې د ښځې کرامت، شخصیت او مقام یې په خپل اصلي ځای کې ساتلی، چې ښځه مور، خور، مېرمن او لور کیدلی شي؛ ځکه د ژوند په هر پړاو کې اسلام ښځې ته په ځانګړي مقام قایل شوی دی.

ـ د خلکو غولول او هغه ادعا، چې وایي د ښځې پر وړاندې تاوتریخوالی د شرعي احکامو له امله دی، نور د خلکو له نظره پټ نه دی او دا د اسلام پر وړاندې د جګړې تبلیغاتي فریب او د غربي هېوادونو د قوانینو د پلي کولو ناکامه هڅه ده، لکه څنګه چې په تونس کې هم ورته هڅه ناکامه شوه.

ـ پر موږ لازمه ده چې پر اسلامي واجباتو د حملو مخه ونیسو او ټول هغه کسان، چې د الله سبحانه وتعالی پر قوانینو برید کوي، مجازات کړو او پر وړاندې یې سخت واوسو؛ ځکه دوی خلک ګمراهۍ ته رابولي او انسان د الله سبحانه وتعالی له عبادته د بنده عبادت ته هڅوي.

ـ پر همدغه اساس موږ هغه چارواکو ته، چې داسې خبیثانه ادعاوو ته غوږ نیسي، غوښتنې یې ترسره او د هغوی ملاتړ کوي، اخطار ورکوو. د اسلامي شرعیت له پلي کولو پرته، هېڅ شی موږ ته غوره نهضت نه شي راکولی او که داسې نه وي، زموږ نفسونه به بې ارزښته شي.

نو ځکه موږ له سخت تذکر سره اشاره کوو، چې د هر هغه چا پر ضد یو چې د ښځې کړوي او یا یې پر وړاندې جرمومه او نور ناوړه کارونه روا بولي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«لَا يُكْرِمُهَا إِلَّا كَرِيمٌ...»

***ژباړه:** یوازې با شخصیه نجیب سړی به ښځې ته کرامت ور وبښي او بد نیتی سړی به د دوی بې عزتي کوي.*

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«رِفْقاً بِالْقَوَارِيرِ»

***ژباړه:** له ښیښه یي لوښو (ښځو) سره نرم اوسئ!*

**شیخ دوکتور محمد ابراهیم**

**د حزب التحریر ـ ولایه لبنان د مطبوعاتي دفتر رییس**

د صدور ګڼه: H.T.L ۱۴۴۰/۰۶

۱۴۴۰هـ.ق، د ربيع الثاني ۱

۲۰۱۸م، د ډسمبر ۸مه